د افغانستان اسلامي امارت

**د ارشـــــاد، حـــج او اوقافـــــو وزارت**

**د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست**

**دجمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**لیکلی تقریر اوبیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**

**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي**

---

**۱۹/ رجب المرجب/۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۱۹/ جدي/۱۴۰۴هـ، ش**

# هغه کارونه چې په ځمکه کې اصلاح رامنځته کوي او د ټولنې د پرمختګ لامل ګرځي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**الحمد لله جل جلاله، وعز جاهه، وتقدست أسماؤه، وعظم عطاؤه، وعم نواله، له الحمد قدّر الأقدار، وكتب الآجال، لا يخلف وعده، ولا يهزم جنده، ولا يعز أعداؤه، ولا يذل أولياؤه ، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبد الله ورسوله، خاتم الأنبياء والمرسلين، سيد الأولين والآخرين،وصلى الله وسلم وبارك عليه وعلى آله وصحابته أجمعين إلى يوم الدين،أما بعد:**

**قال الله سبحانه وتعالى: (قَالَ يَاقَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِنْ كُنْتُ عَلَى بَيِّنَةٍ مِنْ رَبِّي وَرَزَقَنِي مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا وَمَا أُرِيدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلَى مَا أَنْهَاكُمْ عَنْهُ إِنْ أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ). هود: (۸۸)**

**درنو او عزتمنو حاضرینو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

**د قرآن کریم د مهمو موضوعاتو څخه د خلکو اصلاح کول او اسلامي ټولنه د هر ډول انحرافاتو او مفاسدو څخه پاکول دي.**

**د قرآن کریم له اهدافو څخه یو هدف دادی، چې د ځمکې په سر د خلکو په ژوند کې غوره او عالي اخلاق پیاده شي او ځمکه د هر ډول ناکاره او ضرري کړنو او کارونو څخه پاکه شي.**

**انسان مدني الطبع مخلوق دی او نشيء کولای، چې د نورو خلکو څخه جدا ژوند وکړي ؛ نو دا طبعي خبره ده چې انسان به په انساني ټولنه کې ژوند کوي، بیا الله تعالی د انسانانو د یو ځای ژوند کولو لپاره ځانګړي احکام رالیږلي دي، ترڅو خلک د ځمکې په سر هوسا او ارام ژوند وکړي او دالله تعالی بندګي وکړي.**

**د اصلاح او فساد دواړ حالتونو ښه والی او بد والی مستقیماً د ټولنې افرادو ته متوجه دي، که چیرې د ځمکې په سر ټولنیز ژوند صالح وي ؛ نو د ټولنې د افرادو ژوند به هم صالح او ښه وي او که چیرې د ځمکې په سر ټولنیز ژوند فاسد وي، نو د ټولنې د افرادو ژوند به هم تریخ او فاسد وي او ټولنه به پرمختګ ونکړي، ځکه ځمکه به د بدبختیو، ناخوالو ، جنګونو او مرګونو څخه ډکه وي.**

**د اسلام د ټولنیز نظام دا خصوصیت دی، چې په دې نظام کې فرد هم د ټولنې د اصلاح مسئولیت په غاړه لري او فرد مسئولیت لري، چې د خپل توان په اندازه د اسلامي ټولنې څخه فساد لرې کړي.**

ددې لپاره چې په ځمکه کې اصلاح عامه شي او ټولنه پرمختګ وکړي ، الله جل جلاله اصلاحي کارونه پر خلکو لازم ګړي دي او هغه يې مونږ ته هم راښوولي دي او زمونږ څخه يې غوښتي دي، چې هغه اصلاحي کارونه په خپل ژوند کې عملي کړو، ترڅو په ځمکه کې اصلاح رامنځته شي.

قرآن کريم له شروع څخه انسانان اصلاح ته رابللي دي، لکه د عقيدو او فکرونو اصلاح ، د سلوک اصلاح او داسې نور. اصلاح دومره ارزښتناکه کار دی، چې په قرآن کريم کې يې د ايمان سره پيوسته ذکر شوی دی، لکه چې الله تعالی فرمايلي دي: ( وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ إِلاَّ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ فَمَنْ آمَنَ وَأَصْلَحَ فَلاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ) الانعام:(٤٨)
ترجمه:او نه ليږو مونږ رسولان مګر زيري کوونکي مؤمنانو تـه په نعيم سره او ويروونکي کفارو ته په جحيم سره پس هر چا چې ايمان راوړ او اصلاح يې کړ عمل په طاعت سره، نو نشته هيڅ قسم وېره په دوی باندې او نه به دوی هيڅکله خپه کيږي د ثواب په نقصان سره .

همدا راز په ځمکه کې اصلاح په اسلام کې دومره اهميت لري، چې په قرآن کريم کې د تقوی سره پيوسته ذکر شوی دی. الله جل جلاله فرمايلي دي:(يَا بَنِي آدَمَ إِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ آيَاتِي فَمَنِ اتَّقَى وَأَصْلَحَ فَلاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ) الاعراف:(٣٥)

ترجمه:ای زامنو (اولاده) د آدم که راشي تاسې ته رسولان له تاسې څخه، چې لولي دوی پر تاسې باندې آيتونه د کتاب زما يعنې شرعي احکام ، نو هر څوک چې ځان وساتي له تکذيب څخه او اصلاح کړي عمل خپل ، نو نه به وي هيڅ قسم وېره پر دوی باندې او نه به دوی غمجن کيږي په نقصان د جزا سره.
همدارنګه د الله تعالی له خوا د راليږل شوو پيغمبرانو کار په ځمکه کې داصلاح راوستل ؤ او په هره زمانه کې به پيغمبرانو خپل امتيان اصلاح ته رابلل، لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:(قَالَ يَاقَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِنْ كُنْتُ عَلَى بَيِّنَةٍ مِنْ رَبِّي وَرَزَقَنِي مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا وَمَا أُرِيدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلَى مَا أَنْهَاكُمْ عَنْهُ إِنْ أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ). هود: (٨٨)

ترجمه:وويل شعيب (عليه السلام) ای قومه زما! آيا وينئ تاسې خبر راکړئ ماته که يم زه په برهان واضح له جانبه د رب خپل او راکړی يې وي ماته له درباره خپله رزق او روزي ښايسته او نه لرم اراده د دې چې مخالفت وکړم له تاسې څخه او وکړم هغه کار ته چې منع کوم تاسې له هغه کاره، اراده نه لرم زه مګر د اصلاح ستاسې څو چې توان کې وي زما.
دځمکې په سر اصلاح دومره باارزښته عمل دی چې الله تعالی د اصلاح ګټې او فايدې هم ذکر کړي دي،چې ځينې يې په لاندې ډول دي:
١-اصلاح ټولنه له هلاکت څخه ساتي. الله تعالی فرمايلي دي:(وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ الْقُرَى بِظُلْمٍ وَأَهْلُهَا مُصْلِحُونَ).هود:(١١٧)

ترجمه: او لـه سره نـه دی رب ستـا اراده کوونکی د دې چې هلاک کړي اهـل د قريو په ظلم او کفر سره حال دا چې وي اهل د دغو قريو نېکان اصلاح راوستونکي مصلحان.
٢-اصلاح د ټولنو د امنيت سبب دی. اللـه تعـالی فرمـايلي دي:(فَمَنِ اتَّقَى وَأَصْلَحَ فَلاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ) الاعراف:(٣٥)
ترجمه: نو هر څوک چې ځان وساتي له تکذيب څخه او اصلاح کړي عمل خپل ،نو نه به وي هيڅ قسم وېره پر دوی باندې او نه به دوی غمجن کيږي په نقصان د جزا سره.

هغه ټولنه چې افراد يې اصلاحي کارونه کوي او خپل ځان سره محاسبه کوي او نه پريږدي چې ټولنه فاسده شي، په داسې ټولنه کې به تل امنيت برقراره وي او پوره اطمينان به په کې حاکم وي.

۳-اصلاح د الله تعالی د رحمت او مغفرت سبب دی.الله تعالی فرمايلي دي:(وَإِنْ تُصْلِحُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُوراً رَحِيماً).النساء: (۱۲۹)

ترجمه:او که اصلاح وکړئ تاسې (له خپلو ښځو سره) او پرهيز وکړئ له ظلمه، نو بېشکه چې الله دی ښه مغفرت کوونکی د خطاګانو ډېر رحم کوونکی دی.

۴-ځوک چې د اصلاح اراده ولري ، نو الله تعالی به ورته داصلاح توفيق ورکړي. الله تعالی فرمايلي دي:(وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَماً مِنْ أَهْلِهِ وَحَكَماً مِنْ أَهْلِهَا إِنْ يُرِيدَا إِصْلاحاً يُوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيماً خَبِيراً).النساء: (۳۵)

ترجمه:اوکه وويرېږئ تاسې له مخالفت څخه په منځ د مېړه او ښځې کې نو ور وليږئ مقرر کړئ تاسې يو منصف له خپلوانو د دې سړي او بل منصف له خپلوانو د دې ښځې نه که اراده لري دغه زوجين يا حکمين د اصلاح او جوړښت نو موافقت به پيدا کړي الله د دغو زوجينو په منځ کې بېشکه الله دی ښه عالم د زوجينو په مصالحو هم ښه خبردار د حکمينو په مقاصدو هم.

۵-اصلاح د فلاح او کاميابی سبب دی. الله تعالی فرمايلي دي.(وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ).آل عمران: (۱۰٤)

ترجمه:او وي دې تل له تاسې څخه يوه ډله، چې بولي به خلک د خير طرف ته( اسلام ته) او امر به کوي خلکو ته په نېکی سره او منعه کوي به خلق له منکر او بدی څخه او دغه آمرين بالمعروف ناهين عن المنکر هم دوی دي مراد ته رسيدلي او کامياب.

کوم کارونه چې په څمکه کې اصلاح رامنځته کوي او د ټولنې د پرمختګ لامل ګرځي ، ځينې يې په لاندې ډول دي:

**۱-په الله تعالی ايمان درلودل او د شرک څخه ځان ساتل.**

پـه اللـه تعالی ايمان درلودل او د هغه په وحدانيت عقيده درلودل په څمکه کې اصـــلاح رامنځته کوي او د ټولنې د پرمختګ لامل ګرځي.

ايمان د ژوند ســتنه ده او د ټولو نيکبختيو او ســعادت مصـدر دی او د هر ډول خير او فضـيلت سرچينه ده، ځکه چې مؤمن شـخص د خير او شر په تقدير ايمان لري او په خپل تقدير راضي وي، د هر مشـکل او مصـيبت په وخت کې د صـبر څخه کار اخلي او د زحمت او راحت په دواړو حالتونو کې د الله تعالی شکر ګزاره وي.

پـه اللـه تعـالی ايمان درلودل د ټولو نيکيو مرجع او د ټولنې د اصـــلاح اصـــلي سرچينـه او منبع ده، ځکـه چې په الله تعالی ايمان درلودل روښـنايي ده او انسـان د هر ډول ناروا کارونو او کړنو څخه ساتي، ايمان انسانان نيکی ته رابولي او له شرک او نورو بدو او ناړو کارونو او خصـــلتونو څخه يې منع کوي، د ايمان په وجه انســـان نيک او بد، خير او شر پيژني ، ايمان فرد او ټولنه د اصـــلاح لار ته ســـوقوي او د هلاکت څخه يې ژغوري، کله چې دانســـان په زړه کې ايمان ځای ونيسي‌ـ په حقيقت کې د انســـان په زړه د روښـــنايي ډيوه بله شـــوه ، چې دايمان په وجه انســـان د هدايت لار خپلوي او د ګمراهی څخه ځان ساتي. ايمان دی چې انسان ته په نيکو امر کوي او له بديو څخه يې ساتي.

د الله تعالی وحدانيت ته د خلکو رابلل د يو لک او څلورويشت زره پيغمبرانو لاره ده او د هغوی د دعوت موخه ده.

الله جل جلاله فرمايلي دي:(وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولاً أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ).النحل:(٣٦)
ترجمه: او خامخا په تحقيق ليږلي وو مونږ په هر پخواني امت کې يو رسول چې ووايي دوى ته چې عبادت وکړئ يواځې د الله او ځان وساتئ تاسې له شريرانو باطلو معبودانو څخه

امام طبرى رحمه الله ليکلي دي: (ولقد بعثنا أيها الناس في كلّ أمة سلفت قبلكم رسولا كما بعثنا فيكم بأن اعبدوا الله وحده لا شريك له، وأفردوا له الطاعة، وأخلصوا له العبادة) تفسير الطبري ت شاكر (١٧/ ٢٠١)

ژباړه: بيشکه مونږ ليږلي وو اى خلکو په هر امت کې چې تير شوي ستاسو څخه مخکې رسول لکه څرنګه چې تاسو ته مې درليږلى دى (او ورته مو امر کړى ؤ چې خلکو ته ووايې) چې يواځې د الله تعالى عبادت وکړئ چې هيڅ شريک نلري او يواځې د الله تعالى طاعت وکړئ او خاص کړئ هغه لره عبادت.

او مونږ ته الله تعالى ددې امر کړى دى چې ددغو پيغمبرانو پيروي وکړو او د هغوى لاره تعقيب کړو او خلک د الله تعالى وحدانيت ته راوبلو ، ځکه چې په الله تعالى د ايمان تقاضا داده چې مونږ په ټولنه کې اصلاح رامنځ ته کړو ترڅو ټولنه پرمختک وکړي.

الله تعالى مونږ ته فرمايي :(أُوْلَئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللّهُ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ قُل لاَّ أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِنْ هُوَ إِلاَّ ذِكْرَى لِلْعَالَمِينَ) الانعام: (٩٠)

ترجمه : دغه انبياء هغه کسان دي چې هدايت کړى دى الله دوى ته نو په طريقه د دوى اقتداء وکړه اى محمده ووايه چې زه نه غواړم له تاسې په دغه تبليغ د قرآن څه اجر مزدوري نه دى دا قرآن مګر يواځې ذکر پند وعظ دى لپاره د ټولو عالميانو.

**٢-په نيکيو امر کول او له بديو څخه خلک منع کول.**

په نيکيو امر کول او د منکراتو څخه خلک منع کول، په اسلام کې د خورا مهمو موضوعاتو څخه ده.

په نيکيو امر کول او له بديو څخه خلک منع کول د فرد او نظام دواړو شريک مسئوليت دى. الله تعالى فرمايلي دي:(الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ).الحج: (٤١)

ترجمه: (مرسته شوي) هغه کسان دي چې که چيرې مونږ دوى ته په زمکه کې تمکين (حکومت او سلطه) ورکړو قائموي به لمونځونه او ورکوي به زکاتونه او امر به په نيکۍ کوي او له منکراتو به مخنيوى کوي او خاص الله تعالى دى عاقبت دټولو کارونو.

د محمدي امت فضيلت او بهترى سبب دادى، چې محمدي امت په نيکيو امر کوي او د منکراتو مخنيوى دى. الله تعالى فرمايلي دي:(كُنتُمْ خَيْرَأُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ)آل عمران:(١١٠)

ترجمه: ياست تاسو غوره امت ياست چې ايستل شوي ياستى دخلکو لپاره چې امر به کوئ په نيکۍ سره او له منکراتو به مخنيوى کوئ.

د منکراتو مخنيوي نه کول، دالله تعالى د لعنت سبب ګرځي، لکه چې الله تعالى فرمايلي دي:(لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُودَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَلِكَ بِمَا عَصَوا وَّكَانُواْ يَعْتَدُونَ . كَانُوا لا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُنْكَرٍ فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ) المائده:(٧٨-٧٩)

ترجمه: لعنتيان ګرځول شوي دي هغه کسان چې په بني اسرائيلو کې کافران ؤ په ژبه د داؤد -عليه السلام- او په ژبه دعيسى -عليه السلا- دا ځکه چې دوى نافرماني کړى وه ( دالله تعالى له امر څخه) او له حد څخه يې تجاوز کړى ؤ.

(ددوی د لعنت سـبب دا ؤ ) چې لـه منكراتو څخـه بـه یې مخنیوی نـه كولو او منكرات به یې كول، ډېر بد دی هغه كار چې دوی به كولو.

په یو حدیث شریف كې داسې راځي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « إِنَّ أَوَّلَ مَا دَخَلَ النَّقْصُ عَلَى بَنِى إِسْرَائِيلَ كَانَ الرَّجُلُ يَلْقَى الرَّجُلَ فَيَقُولُ يَا هَذَا اتَّقِ اللَّهَ وَدَعْ مَا تَصْـنَعُ فَإِنَّهُ لاَ يَحِلُّ لَكَ ثُمَّ يَلْقَاهُ مِنَ الْغَدِ فَلاَ يَمْنَعُهُ ذَلِكَ أَنْ يَكُونَ أَكِيلَهُ وَشَرِيبَهُ وَقَعِيدَهُ فَلَمَّا فَعَلُوا ذَلِكَ ضَرَبَ اللَّهُ قُلُوبَ بَعْضِـهِمْ بِبَعْضٍ ». ثُمَّ قَالَ (لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِى إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُدَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ) إِلَى قَوْلِهِ (فَاسِقُونَ) ثُمَّ قَالَ « كَلاَّ وَاللَّهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ وَلَتَأْخُذُنَّ عَلَى يَدَىِ الظَّالِمِ وَلَتَأْطُرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ أَطْرًا وَلَتَقْصُرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ قَصْرًا ».وفى رواية « أَوْ لَيَضْرِبَنَّ اللَّهُ بِقُلُوبِ بَعْضِكُمْ عَلَى بَعْضٍ ثُمَّ لَيَلْعَنَنَّكُمْ كَمَا لَعَنَهُمْ ». سنن أبى داود-ن (٤/ ٢١٣)

ترجمه: د عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: بیشكه لومړنی هغه څه چې په بني اسرائیلو كې د نقصان د واقع كیدو باعث شو هغه دا ؤ چې یوه ورځ به یو شخص د بل شخص سره مخامخ شو [چې هغه به په ګناه كې اخته ؤ] ورته به یې وویل: له الله تعالی وویریږه او دا څه چې كوی دا پریږده؛ ځكه دا درته حلال نه دي. بله ورځ به چې ورسره مخامخ شو هغه به یې له ګناه څخه نه منع كولو؛ دا له دې امله چې له هغه ګناهګارسره به یې خوراک ، څښاک او ناسته شوه، هركله چې هغوی دمنكر مخنیوی یې پریښود، الله تعالی ددوی زړونه سره یو په بل ووهل یعنی زړونه یې په ګناه كې یوشان شو، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم دا آیت تلاوت كړ: (لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِى إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُدَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ) إِلَى قَوْلِهِ (فَاسِقُونَ) پوری، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: خبردار! خامخا تاسو به په نیكی سره امر كوئ او له منكراتو به مخنیوی كوئ او د ظالم لاسونه به له ظلم څخه نیسئ او هغه به حق ته راګرځوئ او هغه به په حق باندې دروئ. (هغه ځوک چې منكرات كوي هغه ظالم ګڼل كیږي).

په یو بل روایت كې راځي: كه داسې ونه كړئ؛ نو الله تعالی به ووهي زړونه ستاسو یو د بل دپاسه یعنې الله تعالی وبه ګرځوي زړونه ستاسو یوشان ګناهګار او داسې لعنت به درباندې وكړي؛ لكه څرنګه چې یې په بني اسرائیل لعنت كړی ؤ.

په نیكیو امر كول او له بدیو څخه خلک منع كول په ټولنه كې اصلاح رامنځ ته كوي او ټولنه د هلاكت څخه ساتي.

كه چیرې منكرات په ټولنه كې عام شي او په ډاګیزه توګه خلک په منكراتو اخته وي او د الله تعالی عذاب راشي، نو د الله تعالی عذاب عام وي خواصو او عوامو ټولو ته رسیږي .

عن عَدِيّ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ لَا يُعَذِّبُ الْعَامَّةَ بِعَمَلِ الْخَاصَّةِ حَتَّى يَرَوْا الْمُنْكَرَ بَيْنَ ظَهْرَانَيْهِمْ وَهُمْ قَادِرُونَ عَلَى أَنْ يُنْكِرُوهُ فَلَا يُنْكِرُوهُ فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ عَذَّبَ اللَّهُ الْخَاصَّةَ وَالْعَامَّةَ).مسند أحمد (٢٩/ ٢٥٨)

ترجمه: عدي رضی الله عنه فرمايي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: الله تعالی د خاصو خلكو په بدو اعمالو باندې عامو خلكوته ترهغې عذاب نه وركوي؛ ترڅو چې منكرات په خپلو منځو كې ښكاره وه ویني او دوی یې په مخنیوي باندې قدرت لري؛ مګر مخنیوی یې ونه كړي كله چې دوی داسې وكړي بیا الله خاصو او عامو ټولو ته عذاب وركوي.

په کومه ټولنه کې چې خلک د منکراتو مخنیوی نه کوي، هغه ټولنه فاسدیږي او کله چې ټولنه فاسده شوه ، نو د ټولنې د فساد خطرونه صالح او طالح ټولو ته خلکو رسیږي، لکه چې په یو حدیث شریف کې راځي: (مَثَلُ الْمُدْاهِنِ فِي حُدُودِ اللهِ وَالْوَاقِعِ فِيهَا مَثَلُ قَوْمٍ اسْتَهَمُوا سَفِينَةً فَصَارَ بَعْضُهُمْ فِي أَسْفَلِهَا وَصَارَ بَعْضُهُمْ فِي أَعْلَاهَا فَكَانَ الَّذِي فِي أَسْفَلِهَا يَمُرُّونَ بِالْمَاءِ عَلَى الَّذِينَ (الَّذِي) فِي أَعْلَاهَا فَتَأَذَّوْا بِهِ فَأَخَذَ فَأْسًا فَجَعَلَ يَنْقُرُ أَسْفَلَ السَّفِينَةِ فَأَتَوْهُ فَقَالُوا مَا لَكَ قَالَ تَأَذَّيْتُمْ بِي وَلَا بُدَّ لِي مِنَ الْمَاءِ فَإِنْ أَخَذُوا عَلَى يَدَيْهِ (يَدِهِ) أَنْجَوْهُ وَنَجَّوْا أَنْفُسَهُمْ وَإِنْ تَرَكُوهُ أَهْلَكُوهُ وَأَهْلَكُوا أَنْفُسَهُمْ). صحيح البخاري- نسخة طوق النجاة (ص: ٤٠٣)

ترجمه: د الله تعالی په حقوقو کې د مداهن او د الله تعالی له حقوقو څخه د دفاع کونکي مثال د هغه قوم دی چې په کشتۍ کې هر چاته ځای ورسیږي ځینو ته یې لاندینۍ حصه ورسیږي او ځینو نورو ته یې د کشتۍ پاسنۍ حصه ورسیږي خو هغه کسان چې دکشتی په لاندې حصه کې دي د اوبو د ترلاسه کولو لپاره دکشتی د پاسنۍ برخې پرخلکو تیریږي او دوی ته له دې امله تکلیف رسیږي، د لاندې حصې له خلکو څخه یو شخص تیشه را واخلي او شروع وکړي د کشتی په سوري کولو باندې کله چې دوی ورته راشی او ورته ووایې چې دا څه کوی؟ هغه ورته ووایې:

تاسو زما د تیریدو له امله په تکلیف کې وی او زه باید اوبه ترلاسه کړم ( او دا ځای سوری کړم)، که چیرې د کشتۍ خلک دده لاسونه ونیسي ـ ده ته به هم نجات ورکړي او خپلو ځانونو ته به هم نجات ورکړي او که چیرې دا شخص پریږدي ( کشتۍ سوری کړي) دا شخص به هم هلاک کړي او خپل ځانونه به هم هلاک کړي.

بناءً مونږ مسلمانان دمنکراتو په وړاندې باید بې تفاوته پاتې نه شو؛ ولو که د منکر په لمنځه وړلو کې هغه وخت برلاسي هم نشو؛ ولی د منکر ازاله په هره ممکنه وسیله او طریقه باید وکړو؛ لکه چې پیغمبرعلیه السلام چې داسلام په ابتداء کې خلک یې له شرک څخه چې تر ټولو ستر منکر دی منع کول او خلک یې دتوحید عقیدې ته رابلل؛ خو کله چې داسلام دین قوت وموند بیا یې دمنکراتو سره په عملي مبارزه امر وکړ او منکرات به یې له منځه وړل.

د منکراتو دمخنیوي په اړه پیغمبرعلیه السلام فرمایلي دي: (من رأى منكم منكراً فليغيره بيده، فان لم يستطع فبلسانه، فإن لم يستطع فبقلبه وذلک اضعف الايمان) رواه مسلم.

ترجمه:څوک چې ویني له تاسو څخه منکر باید چې دلاس په وسیله هغه له منځه یوسئ، که چیرې ددې توان نه لري، په ژبه دې له منځه یوسئ، که چیرې ددې توان نه لري په زړه دې ورسره کرکه وکړي او دا تر ټولو کمزوری ایمان دی.
د منکراتو مخنیوی نه کول او یا هم په دې برخه کې کم کاري کول د الله تعالی د لعنت او قهر سبب ګرځي. لکه څرنګه چې الله تعالی په قرآن کریم کې دهغه قوم مذمت بیان کړی دی چې د منکراتو مخنیوی به یې نه کاوه.
الله تعالی فرمایلي دي:( كَانُواْ لاَ يَتَنَاهَوْنَ عَن مُّنكَرٍ فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُواْ يَفْعَلُونَ) المائده: (٧٩)
ترجمه:(ددی دلعنت سبب داؤ چې ) دوی به دمنکراتو مخنیوی نه کولو او خپله به هم ئې منکرات کول، خامخا ډیر بد دی هغه کار چې دوی به کولو.
د امر بالمعروف او نهی عن المنکر عمل پریښودل د الهي عذاب سبب ګرځي، چې بیا به د مسلمانانو دعاګانې نه قبلیږي.رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:( وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ أَوْ لَيُوشِكَنَّ اللَّهُ أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عِقَابًا مِنْ عِنْدِهِ ثُمَّ لَتَدْعُنَّهُ فَلَا يَسْتَجِيبُ لَكُمْ). مسند أحمد (٣٨/ ٣٣٢)

ترجمه: قسم په هغه ذات چې زما نفس دهغه په واک کې دی، چې تاسو به یا امر په معروف کوئ او له منکراتو به مخنیوی کوئ او یا دا چې نږدې دی الله تعالی دربانديې داسې عذاب نازل کړي چې بیا به تاسو دعاء کوی خو نه به قبلیږي ( اوعذاب به په دعا سره نه وروسته کیږي)

فقهاء کرامو دمنکراتو دمخنیوي په اړه فرمایلي دي:( د امربالمعروف او نهی عن المنکر، ترک کوونکی دلمونځ پریښودونکي په شان دی او په نیکی باندې امر کول لکه دلمونځ د ادا کولو په څیر دي، لکه څرنګه چې د لمونځ پریښودل جواز نلري همدا شان په نیکی باندې امر نه کول او له منکراتو څخه مخنیوی، نه کول هم جواز نه لري).نصاب في الاحتساب ص: ۲۰۸، للعلامة السنامي الحنفي

په کومه ټولنه کې چې نیکیو ته خلک رابلل کیږي او د منکراتو مخه نیول کیږي په هغه ټولنه کې ګناهونه ختمیږي او یا کمیږي او د ګناه ځای نیک اعمال نیسي– او په هغه ټولنه کې د مسلمانانو ترمنځ مینه او محبت او الفت زیات وي او د هغه ټولنې خلک د خوښۍ احساس کوي او د خلکو د شر او فساد ویره نلري او په امن کې ژوند کوي، لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: (وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ ).التوبة:(۷۱).

ترجمه: او سړي مؤمنان او ښځې مؤمناني ځيني د دوی دوستان دي د ځینو نورو حکم کوي دوی په نېکیو چې د الله او رسول الله اطاعت دی او منع کوي له بدیو چې د الله او د رسول الله نه مخالفت دی .

بالعکس په کومه ټولنه کې چې د منکراتو مخنیوی نه کیږي او خلک نیکیو ته نه رابلل کیږي په داسې ټولنه باندې دالله تعالی عذاب نازلیږي. لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: (فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِ أَنجَيْنَا الَّذِينَ يَنْهَوْنَ عَنِ السُّوءِ وَأَخَذْنَا الَّذِينَ ظَلَمُواْ بِعَذَابٍ بَئِيسٍ بِمَا كَانُواْ يَفْسُقُونَ). الاعراف: (۱٦٥)

ترجمه: نو کله چې پرېښود دوی لکه چې یې هېر کړی وي هغه نصیحت چې پند ورکړی شوی وو دوی ته په هغه سره او منع نشول د ښکار څخه به خالي کې نو نجات ورکړ مونږ هغو کسانو ته چې منع کول دوی دا نور له بدۍ چې ښکار وو په خالي کې او ومو نیول هغه کسان چې ظلم یې کړی وو په کولو د ښکار او نه کولو د نهي او منع کولو په عذاب سخت سره په سبب د هغه چې وو دوی چې ګناهونه به یې کول.کومه ټولنه چې غواړي چې د الله د عذاب څخه نجات ومومي ، نو ددغې ټولنې خلک دې په نیکیو امر کوي او له بدیو څخه دې خلک منع کوي.

**۳- صالح عمل او د نیکو اعمالو کول.**

د نیکو اعمالو کول د ټولنې د اصلاح لوی لامل دی. په کومه ټولنه کې چې خلک نیک اعمال کوي داسې ټولنه به نیکبخته ټولنه وي او داسې ټولنه کې به جرمونه کم وي او خلک به په کې د راحت ژوند کوي. سعادت او نیکبختي د ټولو خلکو ارمان دی .

نیکبختي او سعادت هغه هدف دی چې د نیکبختۍ او سعادت د لاسته راوړلو لپاره دنړۍ ټول انسانان کوښښونه کوي او دټولو مسلمانانو دا هیله وي چې د الله تعالی بندګي وکړي او هغه کار ته یو له بل څخه مخکې شي چې دالله تعالی د رضامندۍ سبب ګرځي. او څوک چې نیک او صالح عمل وکړي الله تعالی به ورته ښایسته ژوند ورکړي او ښه ژوند به یې په برخه شي.الله تعالی فرمایلي دي:(مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ). النحل:(۹۷)

ترجمه: هر چا چې وکړ نېک عمل له نارینه څخه یا له ښځې څخه حال دا چې دی مؤمن وي نو خامخا ژوندون به ورکړو هرومرو هغه ته ژوندون طیبه پاکیزه او خامخا جزاء به ورکړو هرومرو دوی ته اجر د دوی په ډېر ښه په سبب د هغو نېکیو سره چې وو دوی په دنیا کې چې کولې به یې.

حافظ ابن کثیر رح وایي: دا دالله تعالی وعده ده د هغه چا لپاره چې نیک او صالح عمل کوي - هغه عمل چې د کتاب الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سنتو سره برابر وي ــــ که هغه نر وي او که ښځه وي چې الله تعالی به ورته ښایسته او غوره ژوند ور په برخه کړي او په آخرت کې به هم ورته نیک عوض ورکړي.

عبدالله بن عباس رضي الله عنه وایي چې د (حياةً طيبةً) څخه مراد سعادت او نیکبختي ده. تفسیر ابن کثیر / دار الفکر (۲/ ۷۱۲)

لکه چې الله تعالی په یو بل آیت کې دا خبره واضحه کړی ده او فرمایلي یې دي:( فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَى * وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا ).طه:(۱۲۳-۱۲۴)

ترجمه: پس هر چا چې متابعت وکړ د هدایت زما پس نه به گمراه کیږي په دنیا کې او نه به بدبخت شي په عقبی کې. او هر چا چې مخ وگرځاوه له ذکره پند زما پس بېشکه ده ته دی معاش ژوند تنگ په دنیا یا سخت عذاب په قبر کې.

ښکاره خبره ده چې د شقاوت ضد سعادت دی .

**۴-د مسلمان حاکم او ولي الامر اطاعت کول.**

د مسلمان حاکم او ولي الامر اطاعت کول د ټولنې د اصلاح لوی لامل دی، ځکه کله چې ټول خلک د عادل پاچا او امیر د سیوري لاندې ژوند کوي ، هلته نظم او قانون موجود وي او هیڅکله ځوک نشي ــ کولای چې په بل چا ظلم وکړي ، د هغه مال وخوري ، په عزت تیری او تجاوز وکړي . همداراز کله چې کومه ټولنه د مسلمان امیر پر بیعت باندې راټول وي ، په هغه ټولنه به له جنگونو، بغاوت ، فریبونو او هر ډول ظلمونو څخه په امان کې وي.

د همدې وجې نه الله تعالي د ولي الامر په اطاعت امر کړی دی او فرمایلي یې دي :(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ).النساء: (۵۹)

ترجمه: ای هغو کسانو چې ایمان راوړی دی ای مؤمنانو حکم ومنئ تاسې د الله او حکم ومنئ تاسې د رسول د الله او حکم ومنئ د خاوندانو د حکم له تاسې مسلمانانو یعنې حاکمانو او مشرانو.

همداراز په حدیث شریف کې راځي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « مَنْ خَلَعَ يَدًا مِنْ طَاعَةٍ لَقِىَ اللَّهَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لاَ حُجَّةَ لَهُ وَمَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِى عُنُقِهِ بَيْعَةٌ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً ». صحیح مسلم(۶/ ۲۲)

ژباړه: عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمايي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: چاچې وویستلو لاس خپل د طاعت (دامام او ولي الامر دطاعت څخه) مخامخ به شي د الله تعالی سره د قیامت په ورځ چې هیڅ دلیل به ورسره نه وي او ځوک چې مړ شو او نه وو په غاړه د هغه کې بیعت (د امام)، مړ به شي په شان دمرگ د جاهلیت .

د امیر پـه اطـاعـت کې پـه ټولنه کې امنیت حاکم وي او ټولنه د فتنو او تفرقو څخه په امن کې وي او خلک به په امنیت کې ژوند تیروي او ددښـمن څخه هیڅ ویره نه وي او بل داچې د مسـلمان امیر اطاعت د دښـمنانو په مقابل کې د مسـلمانانو صف قوي کوي.

همداراز د مسلمان امیر په اطاعت کې دولتي چاري په ټوله ټولنه کې په سمه لار رواني وي.

د شرعي او مسـلمان امیر د بیرغ لانـدې ټولنـه کې د ټولنې د افرادو تر منځ وحـدت، صـله رحمي موجود وي او د ټولنې د خلکو په منځ کې یووالی موجود وي چې ټولنه له پاشـیلدلو څخه ژغوري. د مسـلمان حاکم او ولي الامر په طاعت کې ټولنه د فتنو څخه خلاصـه وي او مسـلمان ولي الامر فرد او ټولنه د فتنو او گمراهیو څخه سـاتي. د مسـلمان امیر اطاعت په ټولنه کې خیر او برکت اچوي او ټولنه کې عدالت او هیبت رامنځ ته کوي.

**۵-په ځمکه کې د الهي حدودو او قصاص تطبيقول.**

د الله تعالی پر ځمکه د الله تعالی حدود نافذول په ځمکه کې د اصلاح را منځته کولو لوی سبب دی.

ددنیا او آخرت خیر او نفع د الله تعالی د حکمونو په منلو کې ده او د الله تعالی د نواهیو څخه په اجتناب کې ده.

الـله تعـالی د اهـل کتـابو پـه اړه وایې چې (وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَـامُوا التَّوْرَاةَ وَالإِنجِيـلَ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْهِمْ مِنْ رَبِّهِمْ لأَكَلُوا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ مِنْهُمْ أُمَّةٌ مُقْتَصِدَةٌ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ سَاءَ مَا يَعْمَلُونَ).المائدة: (٦٦)

ترجمـه:او که بېشـکه دوی درولي وی احکام د تورات او انجیل په تعمیل سره یې او هغه کتاب چې نازل کړی شـوي دي دوی ته له جانبه د رب د دوی ، نو خامخا خوړلي به یې مېوې له پاسـه د سرونو خپلو او غلې له لاندې د پښـو خپلو د ځمکې نه.

الـله تعـالی د اهـل کتـابو پـه اړه وایې چې کـه چیرې دوی دتورات او انجیـل پـه احکـامو عمل کړی وی ، نو دوی ته به ما له پورته اسـمانونو څخه او لاندې په ځمکه کې ډیرزیات نعمتونه ورکړی وی. همدغه حکم د مسـلمانانو په باره کې هم دی ، کـه چیرې مسـلمانـانو د الـله تعـالی حکمونـه په ځان عملي کړي او د الله تعالی پر ځمکه د الله تعالی حدود تطبیق او نافذ کړي ، نو الله تعالی به ورته پراخه نعمتونه ورکړي او د ښـه ژوند خاوندان به شي او په ځمکه کې به فسـادونه کم شي او انساني ټولنه کې به پوره اصلاح راشي.

لکه چې الله تعالی د قصـاص په هکله فرمایلي دي:( وَلَكُمْ فِي الْقِصَـاصِ حَيَاةٌ يَا أُولِي الأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ). البقرة:(١٧٩)

ترجمه: او تاسـې لره دی په قصـاص کې لوی ژوندون ای خاوندانو د عقلونو لپاره ددې چې تاسـې ځان وسـاتئ له ناحقو وینو څخه.

په قصاص کې ژوند ځکه دی چې نور خلک به ورڅخه عبرت واخلي او بیا به په ټولنه کې څوک په ناحقه نه وژني.

همدارنگه رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدودو د تقبیق په اړه فرمایلي دي: عَن أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَـلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَـلَّمَ حَدٌّ يُعْمَلُ بِهِ فِي الْأَرْضِ خَيْرٌ لِأَهْلِ الْأَرْضِ مِنْ أَنْ يُمْطَرُوا أَرْبَعِينَ صَـبَاحًا). وفي لفظ النسـائي: ( ثلاثين صباحا). سنن ابن ماجه (٢ /٨٤٨) ، سنن النسائي الكبرى (٤ /٣٣٥)

ژباړه: د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې نبي علیه السلام فرمایلي دي ، چې که چیرې په یو حد باندې عمل وشي په ځمکه کې دا غوره دی د ځمکې د اهل لپاره د څلویښتو ورځو له باران څخه. او د نسایې په روایت کې دیرش ورځې راغلي دي.

دا به څومره د الله تعالی لوی نعمت وي او څومره خوشبختي به وي، چې الله تعالی د ځمکې په خلکو باندې څلویښت ورځې باران وه وروي، هغه هم په داسې حال کې چې خلک ، حیونات ، نباتات ورته حاجت لري او د ځمکې د خلکو ځمکې خړوبه کړي او فصلونه را وټوکیږي او ځمکه هر لوروې ته شنه او حاصل خیزه شي او حیوانات یې په ګیډه ماړه شي او هواء یې هم صافه او پاکه شي او په چینو او سیندونو کې اوبه زیاتې شي او د ځمکې په شینوالي سره ددوی زړونه خوشحاله شي او دانسانانو حاجتونه پوره شي او د الله تعالی نعمتونه زیات شي او سوکالي شي او دا د نعمت باران څلویښت ورځې ووریږي.

دا چې د حدودو قایمول د انساني ټولنې د اصلاح لپاره ډیر غوره دی، نبي علیه السلام هغه وخت ډیر په قهر شو چې نبي علیه السلام دفاطمې په نامه ښځه باندې د غلا حد قائمولو او صحابه کرامو حضرت اسامه بن زید رضي الله نبي علیه السلام ته د شفاعت په توګه ور ولیږه ترڅو چې به هغه ښځې باندې د سرقې حد تطبیق نکړي او رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته وفرمایل: ( وَايْمُ اللَّهِ لَوْ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ لَقَطَعْتُ يَدَهَا). صحیح البخاري ت (٨ / ٥٨٦)

ژباړه: قسم په الله که چیرې فاطمه د محمد صلی الله علیه وسلم لور غلا کړی وای، نو ما به خامخا د هغې لاس پری کړی ؤ.

**٦-د خلکو په منځ کې اصلاح راوستل.**

د اسلام مبارک دین د صلحې او اصلاح ، امنیت، خواخوږی دین دی او غواړي چې په ټولنه کې صلحه او اصلاح پیاده شي د همدې امله د اسلام مبارک دین ټول هغه کارونه ، خصلتونه او فعالیتونه ممنوع اعلان کړي چې د فرد او ټولنې د فساد لامل ګرځي له جنګ او جګړې ، په ناحقه وژل، د انسان په روح، مال ، عزت ، دین تیری کول، په خلکو ظلم کول.

کفر په اسلامي ټولنه کې جنګ او جګړې اختلافونه ، خپګانونه کرکه او نفرت رامنځ ته کوي او له ټولنې څخه امنیت، وروروليي، اصلاح او نیکبختي اخلي او په ټولنه کې هرج او مرج پیدا کوي.

بالعکس اسلام په ټولنه کې د خلکو په منځ کې اصلاح راوستل او دمسلمانانو ترمنځ روغه جوړه کول په ټولنه کې مینه او محبت زیاتوي او د ټولنې د اسودګي او سوکالي سبب ګرځي.

اسلام د خلکو ترمنځ سوله او اصلاح اسلامي اخوت یقیني کوي. الله تعالی فرمایي :{إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ} الحجرات : ١٠

ترجمه: یقیناً مسلمانان خو یو د بل سره وروڼه دي، نو د خپلو وروڼو په منځ کې مناسبات سم کړئ او له الله نه وویریږئ، هیله ده چې پرتاسې رحم وکړای شي .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې د خلکو ترمنځ سوله د روژې، لمونځ او صدقې څخه هم لوی عبادت دی. او د خلکو ترمنځ فساد او جنګ او جګړې د مسلمانانو وحدت له منځه وړي.په حدیث کې شریف کې راځي: عن أبي الدرداء رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : (أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَفْضَلَ مِنْ دَرَجَةِ الصِّيَامِ وَالصَّلَاةِ وَالصَّدَقَةِ ؟ قَالُوا : بَلَى، قَالَ : صَلَاحُ ذَاتِ الْبَيْنِ ، فَإِنَّ فَسَادَ ذَاتِ الْبَيْنِ هِيَ الْحَالِقَةُ). ابوداود والترمذي سنن أبى داود-ن (٤/ ٤٣٢)

ترجمه : له ابو درداء رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : آیا تاسوته په داسې یو کار چې درجه یې له روژې نیولو، لمونځ او صـدقې څخه لوړه ده خبر درنکړم ؟ صحابه وو وویل هو ! نبي علیه السلام وفرمایل : هغه په خپلو منځو کې اصلاح راوستل دي، ځکه په خپلو منځو کې فساد همدا د دین له منځه وړونکی دی.

پـه یو بـل حدیث شریف کې راځي چې د خلکو ترمنځ روغه او جوړه کول د بدن د غړو صـدقه ده. عن أبي هريرة رضي الله عنه ، قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : (كُلُّ سُلاَمَي مِنَ النَّاسِ عَلَيهِ صَدَقَةٌ كُلَّ يوْمٍ تَطْلُعُ فِيهِ الشَّمْسُ ، يعْدِلُ بَينَ الاِثْنَينِ صَدَقَةٌ ، وَيعِينُ الرَّجُلَ على دَابَّتِهِ فَيحْمِلُ عَلَيهَا أَوْ يرْفَعُ عَلَيهَا مَتَاعَهُ صَدَقَةٌ ، وَالْكَلِمَةُ الطَّيبَةُ صَدَقَةٌ ، وَكُلُّ خَطْوَةٍ يخْطُوهَا إِلىَ الصَّلاَةِ صَدَقَةٌ ، وَيمِيطُ الأَذَي عَنِ الطَّرِيقِ صَدَقَةٌ). متفق عليه

ترجمه : له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی وایي : رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : د خلکو د بدن په هر غړي هره ورځ صـدقـه ده ،چې کله لمر راوخیژي دخلکو په منځ کې عدل کول صدقه ده ، د هر سړي سره سپرلی باندې په بارولو او ورځني راکوزلو کې مرسته کول صدقه ده . ښـه وینا کول صدقه ده، او هر قدم چې د لمانځه په لوري اخیستل کیږي د ده لپاره صدقه ده او کوم ضرري ځیز چې د لارې څخه لرې کیږي دا صدقه ده .

نزاع او اختلافات وحدت او یوالی له منځه وړي، کورنی بربادوي، دښـمني زیاتوي د قتل او قتال سـبب ګرځي، قومونه له منځـه وړي ، د وینو تویولو بـاعث ګرځي او د ټولنې امنیت خرابوي او دمسلمانانو هیبت کمزوری کوي الله تعالی فرمایي(وَلا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ ) الأنفال:( ٤٦)

ترجمه: او مه کوئ جګړه په خپلو منځو کې پس بې زړه به شئ تاسې او لاړ به شي باد( د نصرت، قوت ، دولت) ستاسې.

شیطان دمسلمانانو په زړونو کې کینه، بغض او حسد کري او د مسلمانانو ترمنځ اختلافونه او شخړې زیاتوي. صحیح مسلم کې راځي:(إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ أَيِسَ أَنْ يَعْبُدَهُ الْمُصَلُّونَ فِي جَزِيرَةِ الْعَرَبِ، وَلَكِنْ فِي التَّحْرِيشِ بَيْنَهُمْ) صحيح مسلم
ترجمه: بیشـکه شیطان ددې څخه نا امیده شوی ده چې عبادت به یې وکړي لمونځ ګذار په جزیره عرب کې مګر شیطان کوشش کوي دوی یو پر بل باندې ور واچوي .
بیا هم شیطان د صلحې تر آخري مرحلې پورې کوښښ کوي چې مسلمانان سره جوړ نشي او په زړه کې ورته اچوي چې سوله ضعف، شکست او ناکامي ده خو دالله تعالی دا مبارک آیت ورڅخه هیر وي چې فرمایي:(فَمَنْ عَفَا وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ)الشوری: (۴۰ )
ترجمه: پس څوک چې عفوه وکړي او سوله وکړي پس دده اجر په الله تعالی دی.
د مسلمان سره د خبرو قطع کول کبیره ګناه ده.په حدیث کې راځي: عَنْ أَبِي خِرَاشٍ السُّلَمِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم يَقُولُ: (مَنْ هَجَرَ أَخَاهُ سَنَةً فَهُوَ كَسَفْكِ دَمِهِ). سنن أبی داود-ن (٤ /٤٣١)

ترجمه: د ابو خراش سُـلّمي رضي الله عنه څخه روایت دی چې هغه د پیغمبر علیه السلام څخه اوریدلي دي چې پیغمبرعلیه السلام وفرمایل: څوک چې پریږدي خپل ورور یو کال دا د هغه د وینې د تویولو په شان ده.

ابو ادریس خولاني رحمه الله فرمایي چې ماد ابو درداء رضـــی الله عنه څخه اوریدلي دي چې قســـم یې یاد کړ او وه یې فرمایل: قسم چې د بنده په کارونو کې د خلکو په منځ کې د صلحې څخه غوره عمل نشته.

امام اوزاعي رحمه الله ویلي دي: د خلکو ترمنځ د صـــلحې په غرض د قدم اخیســـتو څخه بل غوره قدم نشـــته.(تفسـیر قرطبي)

ځینو صحابه وو به ویل: څوک چې د عابدینو فضیلت غواړي نو دخلکو ترمنځ دې صلحه وکړي.( تفسیر روح البیان)

د علمای کرامو مســؤولیت دی چې د خلـک روغې جوړی تـه راوبلي او لـه بـدبینی، فســـاد، کرکې ، اختلاف څخـه یې ر اوګرځوي.

نن ورځ چې پـه افغـانســـتان کې اســـلامي نظام حاکم دی، علماء باید خلکو ته ووایې چې ددې نظام ترســـیوري لاندې داطمینان او راحت ژوند اختیار کړي او د مفسدینو او خودخواه خلکو له ملګرتیا څخه دې ځانونه وساتي.

د صلحې او روغې جوړی ګټې:

١. په سولې او روغې جوړی سره الله تعالی او دهغه بندګان راضي کیږي او خوشحالیږي.

٢. د خلکو ترمنځ روغه جوړه کول د پیغمبرانو سنت دي.

٣. اختلافات، خپګان او شخړی د کورنیو او ټولنې د فساد باعث ګرځي.

٤. په سوله کې د کرکې او بدبینی ځای محبت او مینه نیسي.

٥. سوله د خلکو په زړونو کې د عفوې او ببښنې فضیلت را ټوکوي.

٦. په سولې سره حسنات او نیکی تر لاسه کیږي.

٧. سوله او جوړجاړی د خلکو په ژوند کې مثبت تغیر رامنځ ته کوي.

٨. پـه ســـولې سره زړونـه لـه کینې ، نفرت او تربګنی څخه پاکیږي او په زړونو کې راحت، خوشـــحالي او اطمینان رامنځ ته کیږي.

٩. د خلکو ترمنځ سوله نه کول په ځمکه کې فساد خپروي، کورنی ورانوي او انساني عالي اخلاق له منځه وړي.

١٠. په دبنمنی او اختلاف سره د مسلمانانو هیبت له منځه ځي.

**اقول قولي هذا، استغفرالله لي ولکم ولسائر المسلمین**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**